نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۴/۰۲/۲۷

# اوباما څه شي اړ کړ چې کرزي ته ټليفون وکړي!؟؟

سوال دادی چي څه پېښه شوه چي اوباما يو ناڅاپه کرزي ته ټليفون کوي، همدغه خبر بيا د رسنيو په واک کي ورکول کيږي چي اوباما له افغانستان څخه د خپلو ګردو سرتيرو په اړه خبري کوي، بل خوا دفاع وزارت رسنيو ته اعلاميه استوي چي اوباما ډاډه شوي چي ولسمشر کرزی له امريکا سره امنيتي تړون نه لاسليک کوي له همدې امله يي دفاع وزارت ته امر کړی چي له افغانستان څخه د روان ميلادي کال تر پايه د امريکايي عسکرو د وتلو پلان ترتيب کړي.

اوباما چي په دې وخت کي يي هيڅ توقع نه کيدله، د توقع پر خلاف ناڅاپه ولسمشر کرزي ته ټليفون وکړ، کرزي ته يي وويل چي ما خپل دفاع وزارت ته دنده سپارلي چي  د ګردو امريکايي عسکرو د وتلو پر پلان کار وکړي، داسي يو پلان چي د روان زيږديز کال تر پايه د ټولو امريکايي عسکرو وتلو ته د امريکا دفاع وزارت چمتووالی ولري، ولسمشر اوباما کرزي ته داهم وويلي که تاسي له امريکا سره امنيتي تړون لاسليک نه کړئ، نو موږ به خپل ګرده عسکر له دغه هيواد څخه وباسو، اوباما داډول ويلی که راتلونکی ولسمشر او يا تاسي تړون لاسليک کړي، ممکن چي موږ يو ډير لږ شمير امريکايي عسکر په افغانستان کي پريږدو.

دا هر څه له هغه وروسته چي کله طالبانو د امريکا سره د امريکايي سرتيري بوبريګډال او ګوانتانامو افغان بنديانو د تبادلي پر سر خبري وځنډولي.

لومړی ځل دی چي ګوانتانامو زندان ته د ليدلو له پاره يوه پښتون افغان ته اجازه ورکول کيږي چي د ګوانتانامو د زندان حالت نړيوالو او په ځانګړي ډول افغانانو ته په پښتو ژبه په راپور کي وړاندي کړي، په شمار څو ورځي وړاندي داؤد اعظمي د بي بي سي نړيوالي راډيو کارکوونکي په دې اړه راپور ترتيب کړي وو، چي د همدي راډيو د لاري افغانانو واوريدی، بي بي سي، امريکا ږغ او ازادي راډيو هغه دري راډيو ګاني دی چي په ليري پرتو سيمو او ښارونو کي يي ډيری افغانان اوري.

د روان کال د جنوري د مياشتي په دريمه اونۍ کي د اوباما پخوانی سلاکار بانټ روبين کابل ته سفر درلود، په کابل کي يي له ځينو مهمو څيرنيزو، مدني او دولتي ادارو سربيره مخامخ له ځينو نا پييلو کسانو سره هم ليدني وشوي، دا ډول هغه له ځينو پخوانيو طالبانو سره هم د سولي پروسي د بيا پيل او له بن بست څخه د وتلو د لاري په اړه نظر پوښتنه کړي وه.

بانټ روبين له افغانستان څخه دوحه د قطر مرکز ته ولاړی، هلته يي له قطري چاراوکو سره ناستي درلودلي، ممکن چي بانټ روبين به له ځينو افغانانو سره هم ليدلي وي، او خپل د نظر تبادله به يي کړي وي، د بانټ روبين خبری او وړانديزونه پرته له شکه چي د قطري چاراوکو او ممکن د ځينو افغانانو له خوا به هم طالبانو ته رسيدلي وي، مګر داچي طالبانو د قطر دفتر له تړو کيدو وروسته له لويديځوالو سره د خبرو کولو څخه ډډه کړي او باالخصو ص له امريکايانو سره، له همدي امله به د دواړو خواو وړانديزونه د دريم په خوله سره تبادله شوي وي.

طالبانو لا وار د مخه د بنديانو د تبادلي په اړه د ښه نيت څرګندولو له امله د بوبريګډال ويډيو خپره کړي وه، وروسته واشنګټن پوسټ د ګوانتانامو د زندانيانو د خلاصيدو او تبادلي خبرو راپور ورکړ، مګر پربله ورځ يي سپيني ماني دغه خبري رد کړي، او څو ورځي وروسته طالبانو د بنديانو پر سر خبري کول وځنډول.

ممکن چي په يادو خبرو کي به بيا امريکا غوښتل چي له طالبانو سره ګيم (چل او فريب) وکړي، خبري به لومړی د بنديانو د تبادلي په اړه شوي وي، او دابه هم ويل شوي وي چي امريکا په افغانستان کي اډې نه غواړي، خو کله چي د خبرو په ترڅ کي پرمختګ کيږي ممکن چي يو ځل بيا به امريکا له طاالبانو څخه غوښتي وي چي هغوی بايد د سولي په اړه له افغان حکومت سره مخامخ خبري وکړي.

طالبان که څه هم نړيوال وايي چي په سياست نه پوهيږي، مګر زما په نظر له دغسي مکار دښمن او د نړۍ په سطحه له سياست پوهانو سره همدا تر ټولو ښه لاره ده چي کله غلطي وليدل شي نور خبري بندي او ودرول شي، ځکه دغه مکار دښمن غواړي چي په ډول ډول فريبونو سره طالبان بوخت وساتي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

دا هم امکان شته چې: د دوبۍ غونډه هم هغه وخت جوړه شوه چې کله دغه خبرې (د بندیانو تبادله) نږدې نتیجې ته رسیدلي وي، په دې هم طالبان خفه ښکاریدل، ځکه چې امریکا همهاله دوه ګیمه کول، له طالبانو سره دبندیانو د تبادلې خبرې، او بل لورته د هغوی د تجزیې او وېشلو هڅې.
اوباما چې کومې خبرې له ولسمشر کرزي سره کړې، دا به دهغه مجبوریت او د طالبانو له خوا فشار وو، چې مرور اوباما اړ کړي چې د یو قوي هیواد مرور مشر کمزوري ولسمشر کرزي ته ټلیفون کوي، چې نه یې ډیپلوماټیک اصول مني، بله خوا همدغه کرزی امریکا پر تخت کښینولی دی، عقل، سیاست او هر څه خو په داسې وخت کې چې داوړه ولسمشران یو له بل سره مرور ښکاري، دا وایې چې باید زمینه داسې برابره شوې وای چې کرزي ټلیفون کړی وای، او که اوباما ټلیفون کوي، هم رسنیو ته به داسې خبر رسیدلی چې کرزي او اوباما خبرې وکړې. اوس چې ویل کیږی اوباما کرزي ته ټلیفون وکړ، داسې معلومیږي چې یو پټ فشار شته چې اوباما یې اړ کړ چې د خپلو پوځیانو د وتلو اعلان وکړي، دا هغه څه دي چې طالبان یې غواړي.
د طالبانو مهمه غوښتنه داده چې یرغل ته پای ورکول شي، امریکایې پوځیان، د ناټو تر چتر لاندې او آیساف بهرني عسکر له افغانستان څخه د وتلو اعلان وکړي.
فکر کیږي چې د طالبانو دوه مهمې غوښتنې منل شوې، د ګوانتانامو د بندیانو خوشي کول او د بهرنیو ځواکونو وتل، داسې فکر کیږي چې د اوباما له دغه اعلان سره به بیا غیر مستقیم د طالبانو او امریکا خبرې د زندانیانود تبادلې پر سر پیل شي. ځکه هسې هم <u>امریکا غواړي چې د ګوانتانامو زندان وتړي</u>، او غواړي دغه کار څومره چې ژر کیدلای شي وشي.
امریکا نور ناهیلې شوې چې په افغانستان کې به جګړه او زور کار ورکړي، بل خوا چې د پاکستاني طالبانو او پاکستان د حکومت تر منځ هم خبرې له ناکامې سره مخامخ شوې، امریکا پوهیږي چې د دوی په شتون کې او دا ډول تر څو چې د افغانستان مسئله نه وي حل شوې، د پاکستان مسئله به هم حل نه شي.
مخکې هم ځینو لوړ پوړو امریکایي چارواکو ویلي وو چې له طالبانو سره د خبرو بیا پیل کیدو ته لیواله او منتظر دی، هغوی ویلي وو چې:

1. په افغانستان کې د امریکا د اډو شتون سور خط نه دی، کیدای شي چې امریکا ورڅخه تیره شي
2. اساسي قانون کې بدلون او له سره لیکل ستونزه نه ده، د ولسمشریزو ټاکنو یولس نوماندانو کې هم اکثره یې غواړي چې په اساسي قانون کې بدلون راوستل شي.
3. که د سولې پروسه یقیني شي، انتخابات هم ځنډیلای شی، اوس هم که محسوسه پرمختیا ولرو، ممکن ده چې انتخابات وځنډیږي، که موږمخکې پوهیدلای چې دا (انتخابات) به د سولې له پاره د طالبانو غوښتنه او نظر وي، موږ به دغه کار کړی وای
4. که د سولي په اړه توافق وشي، او له طالبانو سره ځینو توافقاتو ته امریکا ورسیږي بیا هم انتخابات ستونزه نه جوړوي، اګر که ولسمشر وهم ټاکل شي، ولسمشر څخه به ژمنه اخستل کیږي، که د سولې خبرې نتیجه ورکوي په هغه صورت کې باید دی (راتلونکی ولسمشر) استعفی ورکړي
5. د برګ بډال وروستیۍ ویډیو یوه ښه او پرځای پرمختګ وو، ښئي چې طالبان د سولې اړوند بیا خبرو ته ژمن دي، دا کار د حسن نیت له مخې شوی، د ګوانتانامو د بندیانو تبادله ممکن ده.

پورته ټکي هغه څه دي چې امریکا حس کړي، او امریکا فکر پرې کړی، نتیجې ته رسیدلي چې په افغانستان کې جنګ نه شي ګټلای، پر یوه داسې لاره فکر کوي چې د دوی وتل اسانه کړي.
طالبانو ته په کار ده چې په دغه حساس وخت کې له فرصت څخه سمه سیاسي ګټه پورته کړي، اوس تر جنګ سیاست کولو ته باید زیاته توجه وکړي، تر څو د افغانستان راتلونکی برخلیک چې د دوی او امریکا پوري مستقیما اړه لري په سم ډول پر مخ یوسي، او د جهاد پر مهال د مجاهدینو په ډول سیاسي تیروتنې ونه کړي.
داسې ویل کیږي چې اسلامي حزب (حکمتیار)، افغان حکومت او امریکا په یو لړ یادو مسئلو وار له مخه توافق ته رسیدلي، د اسلامي حزب شرایط داوو چې امریکایي پوځیان به له افغانستان څخه وځي، کرزی به له امریکا سره امنیتي تړون نه لاسلیک کوي، او اسلامي حزب به د ټاکنو ملاتړ کوي.
نتیجه:
د اوباما له خوا د امریکایي عسکرو د وتلو نسبتاً مشروط اعلان یو ښه پرمختګ دي، د بګرام څخه د افغان بندیانو خلاصون چې ممکن د امریکا په خوښه به وو، د افغانستان د مسئلې د هوارولو له پاره بل ښه ګام وو، دا ډول د ګوانتانامو د بندیانو او امریکایي عسکرو د تبادلې خبرې هم په مناسب وخت کې ښه پرمختګ دی.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

که طالبان سیاست په سم ډول وکړي، په دي حساس وخت کي له فرصت څخه سمه استفاده وکړي، اوسمهال د جنګ تر څنګ په سیاسي ډګر کي تیروتنه ونه کړي، له امریکا سره د بندیانو د تبادلي او دهغوی د وتلو پر سر خبري یو طرفه کړي، او دا ډول د انتخاباتو پر څنډولو او یا راتلونکي انتقالي/مؤقت حکومت پر سر خبري ؤشي، کله چي له امریکا سره یوې نسبي نتیجي ته خبري رسیږي، همماله بین الافغاني تفاهم پیل شي، امید دی چي افغانستان به له دغه لوی ناورین څخه په سم ډول راووځي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ